مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

دوديال ٢٠٢۶/٠۴/١١

# هغه څو ټکي چې زموږ هېر دي

## (څوارلسمه برخه)

د اقتصادي ودې لپاره بشري ماهره نيرو(متشبث)، طبيعی منابع ښه مديريت او ورسره پانګه ضرور ده. د افغانستان په څلويښت کلنو جنګونو کې اقتصادي زيربنا زيانمنه شوه او نوښتګر متشبث نه لرو. که نوښتګر متشبث اقدام کوي، دپانګې نشتوالی يې خنډ ګرځي. د دې مانا داده چې زموږ مالي موسسات( بانکي سيستم، بيمه، پورورکوونکې ګروپونه، دتقاعد خزينه....) ړنګ او خوار دي، زموږ لوی ملی پانګوال او بهرني پانګوال اوسنيو شرايطو کې د افغانستان دننه پانګونه نه کوي، بانکي لېږد درېدلی. خو يوه هيله شته، هغه دا ده چې: د هېواد دننه د کليوالي تشبثاتو لپاره کوچنيو پورونو ( Micro Finance)ته هيله مند شو.

راځئ د داکتريونس کيسه رایاده کړو؛ څومره نوښتګر او زړور اقدام يې وکړ، ياد مو دی؟ وای ګټه په تاوان کيږي!
راځئ فقيد (لی) او خپل بيوزله ولس ته يی خدمتونه راياد کړو، (هوچی مين) هم د قلم او هم د ترکتور په قوت خلکو ته روحيه ورکړه، خپله کروندې ته ولاړ، شولې يې نيال کړې، ولس يې را وباله او د ميهنی اشعارو تر څنګ يې د شولو کروندی آبادې کړې، پروفيسور جهنګان د لوی هندوستان د اقتصاد نبض باندې ګوته کېښوده، د پرمختيا او ترقی لار يې وښوده، مصدق خپل هېواد ته لويه قرباني ورکړه.... ان شاالله موږ تر دوی بدتر نه ياستو، آن دا چې د بنګلادېش، جاپان او سينګاپور څخه مو پنځ شتمن، اقليم متنوع او پوتانسيل مو ډاډمن دی. نور مثالونه هم شته.

د يونس د Micro Finance تجربې نړيوال نوم وګاټه او نړۍ يې حيرانه کړه. نو دا څه شی دی؟
Micro Financeيا کوچنی پور ورکوونکي هغه مالي خدمات دي چې وزګارو او بيوزلو، کوچنيو حرفويانو، سوداګرو، د کورمېرمنو، مانوفاکتور او بزګرانوته، د محلي منابعو د په کاراچولو او د کليوالي تشبثاتو او ښارونو کې د حرفو د پياوړي کولو سره يو ځای، د تمويل توانايي رامنځته کوي. په دې کې هم پور او هم مشورې او حرفوي روزنه شامله ده.

مېکروفاينانس لږ عايد لرونکو وګړو ته مالي خدمات اوکريديتونه دي چې د پور کوچني مراجع يې کليوالو، ښاري کاسبينو او محلی تشبثاتو ته ورکوي. ارواښاد محمد داود خان د خپل جمهوريت په دوران کې بانکي سکتور ته پوره پام وکړ، دا يې په خپلواک ډول په خپلو پښو دريدو ته يو لار بلله. د دې تر څنګ يې کليوالو او بزګرانو ته د پامير سينما نوې ودانۍ کې ( د کرنې د پرمختيا بانک) جوړ او همدا نوم يې ورباندې ولېک. کله به چې موږ هر مازيګر له پوهنتون څخه ښار ته راتلو، نو په دې ليک به مو آن پل آرتل کې سترګې ولېګېدې او لکه د سروزرو په شان به د مازيګری لمر وړانګو ته ځلېد. جنګونو، هغه ريفورمونه ګډ-وډ او دغه بانک هم لوټ شو. څو کاله وروسته يو ځل بيا (غالباً ٢٠٠٧م.) د کوچنيو پور ورکوونکو ګروپونو او بيا د اسلامي بانکولۍ اوازه شوه، لويه هيله راته پيدا شوه، خو هغه وخت د توليد اصلی ډګر، د کوچنيو زمکوالو او بزګرانو او کليوالو سيمې د جنګ، ترور، بمبارد، شپنيو تلاشيو او چاودنو ډګر ګرځېدلی و، کلي او د کوچنيو پورونو ټارګيټ کار ځواک د جنګ ځواک او خوراک شو.

اوس لږهيله پيدا شوې، د يونس تجربه او د (چوان) خدمات رايادوو. زموږ کلي د اقتصادي پرمختيا او ودې لوی پوتانسيل لري، دست ناخورده منابع او پياوړی د کار نيرو لرو، دوی ډېر لږ پانګې او مسلکي مشورې ته اړتيا لري، ورسره ځينی ساده حرفې او مناسب کرنيز ميتودونه بايد بيا ترويج کړو. دا اقدام له کليو څخه د بيوزلي ټغر ټولوي. دکوچنيو پورونو لپاره بله اړتيا دا ده چې له بده مرغه بهر کې افغان پانګوال او بهرني پانګوال د موجود حاکميت د


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له رااليرلو مخکې په څير و لولئ

ملی او بین المللی عدم مشروعیت او د فزیکي او احساسي امنیت د نشتوالي په بهانه، دلته پانګونه نه کوي، نو باید خپلو کورنیو ریزرفونو څخه اعظمي استفاده وکړو.
د پور ورکولو ګروپونه لکه بانکونه مالي موسسات دي، متاسفانه موږ نه ورته پام کړی او نه مو تجربه کړل. موجود (غولوونکي تشبثات) د اشباع حد ته رسیدلي، نور نو حتا د مارکیټنګ د یو خدمت او میانجی په توګه رول نشی ترسره کولای، دا باید فقط د ضرورت په ندازه وي، نه ډیرزیات.
اقتصاد له مقتصد څخه اخیستل شوی، هرڅه کي تعادل ښه دی؛ په تیره بیا (بیلانس) د اقتصاد یو مهم مفهوم دی. سوال دا دی چي په څه ډول اوس بیکاري له منځه یوسو، خلک اندکترین سرمایه نه لري. د افغانستان سرمایه له هیواد بهر وتلي او تخلیوي اثراتو سره مخامخ یاستو.
په دې پوهیږو چي؛ اقتصاد کمیابه او محدود منابع د ډیرو زیاتو اړتیاوو د پوره کولو لپاره تخصیصوي، د تولید زیات منابع او خام توکي له ښارونوبهر دي، خو هر وزګار شخص د ناتواني او مجبوریت له مخي په ښارونو هجوم راوړي، یو څو بسکویټ، د نسوارو پوړی او پاپړ یي مخي ته دسړک په غاړه ایښي د (پرچونفروش) په توګه واړه بروکران ګرځېدلی. حال دا چي د اقتصاد له مخي د دوی په اړه نه د کم کاري، اصطلاح، نه د پرچونفروش، نه مطلق بېکار او نه په مولد کار بوخت، نه د بروکر، نه میانجی، نه د مارکیت د موثرخدمت ... یوه اصطلاح هم صدق نه کوي. ځیني کسان دسړکونو ترغاړو د دومره زیاتو دستفروشانو موجودیت یو جبر بولي، دوی بل کار نشی کولای، د لته د ( بل کار نشی کولای) د ستونزی د حل لپاره micro finance زموږ مرستي ته رادانګي.
اسلامی بانکولي یو حلال او روا د مالي خدماتوسیستم دی. موږ یي نولس کاله مخکي بنسټ په بریالیتوب سره کابل او څو لویو ولایتو کي کیښود.
خصوصي بانکونه حق لري، د ګټي مقابل کي پور ورکړي، د ګټي دا سلنه تر هر بل هېواد ټیټه ده، خو دوی دا جرات نه کوي. بل ښه امکان اسلامی بانکولي ده.
د اسلامی بانکولي پروډکتونو( مساقات، مزارعه، مشارکة، مضاربة، دکوچنیانو لپاره سیما، حسنه پور¸مرابحه... ) کي یو یي کوچني پورونه یا micro finance دی. په دې کي هیڅ حرام او شبیه حرام نشته، خو لږ مدیریت او اراده غواړي. د اسلامي بانکولي موخه مساوات او ټولنیز عدالت، اخلاقي ارزښتونه ساتل، مشروع معیشت، د اسلامی امت عزت او د فقر له امله د منکراتو مخنیوی دی . اسلامی بانکولي دا هدف ترلاسه کوي، متعارف بانکونه، دپوررورکولو کوچنی ګروپونه هم د micro finance دنده پرمخ وړلای شي.
په دې ډول تدابیرو سره وزګارتیا له منځه ځي، کلیوالي تشبثات فعاله کیږي او د نفوسو د اسکان پالیسی تطبیق کیږي، خلک له متکاثفو فقیرانه اکلومیرشنونو څخه د تولید او کار پاک او هوسا چاپیرال ته ځي. ښځي په کار بوختي او له موجود روحي کړاو وځي، د اجناسو تولید زیاتیږي او ورسره خدمات ښه کیږي، ټولنیزتحرک، په ځان د ویساوالی احساس، دمنکراتو له منځه تلل او فرهنګی ارتقا ممکنه کیږي. په دې صورت کي به ولس ځانته یو مړی حلاله ډوډۍ مومي، حاکمیت دي زیربنا infrastructure ته ملا وتړي، په تیره که دا پورونه د شراکت او د محلی منابعو او استعدادونو د په کار اچولو په بنه وي.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارئ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکي په ځیر و لولـئ